# د غزني په ښار کښې په ماينونو او نورو ناچاودو توکيو/ مهماتو د ککړو سيمو د پاکولو نوې پروژه پيل کېږي

غزني په ۲۰۱۳ کال کښې د اسلامي تهذيب د مرکز په نامه نومول کېږي نو ددې سترې تاريخي پېښې د رامنځته کېدلو لپاره تيارئ نيول کېږي

**۱۳۸۹ کال دوړي دمياشتې ۹مه.** د OMAR مؤسسه چه د انساني خير ښېګڼې لپاره د ماين پاکولو يوه غير دولتي مؤسسه ده. د ۲۰۱۰ کال د روانی مياشتې په ترڅ کې د غزني ولايت په مرکز کښې د ماين پاکولو يوه نوې پروژه پيل کوي. دغه پروژه به د نوموړي ښار سره د اسلامي تهذيب په مرکز د نومولو لپاره د تياريو په نيولو کښې مرسته وکړي. داسې انګېرل شوېده چه نوموړئ ښار به په ۲۰۱۳ کال کښې د اسلامي تعليماتو د علمي او فرهنګي سازمان له خوا د اسلامي تهذيب د مرکز په نامه و نومول شي. نوموړې پروژه د کانادا د حکومت په واسطه د ماين پاکولو سره د مرستو د اختياري / بلا عوضه بودجې د برابرولو له لارې چه د UNMAS له خوا اداره کېږي ،تمويلېږي.

د نوموړې پروژې له لارې به په ماينونو او نورو ناچاود و مهماتو ۹ سيمې د ماين پاکولو د اته ټيمونو( په لاس د ماين پاکولو )،د ميخانيکي ماين پاکولو د يوه ماشين، د سپي پواسطه و ماين کشفولو د يوه واحد او همدارنګه د نا چاودو توکيو يا مهماتو د له منځه وړلو د يوه ټيم، د رامنځته کولو له لارې، د ماينونو او نورو ناچاودلو توکيو له شتون څخه پاکې کړي. په ټوليزه توګه د غزني په مرکز کښې ۴۸ سيمې په ماينونو او نورو ناچاودو توکيو ککړې پېژندل شويدي او نوموړې سيمې ۶ کيلو متره مساحت په بر کښې لري. په سيمه کښې د ماينونو او نورو ناچاودلو توکيو شتون ديوه اړخه د سيمې د اوسېدونکو د مړينې او ژوبلو لامل ګرځي او له بله اړخه نوموړې سيمې د کرهڼې په مقصد د کارولو څخه مخه نيسي. ددې پروژې د پلي کولو په پايله کښې به اوه ټولنې د هغو سيمو په ګډون چه د لرغون پېژندنې او تاريخي قدامت له پلوه ډېر ارزښت لري( لکه ګنبدې او نور تاريخي آثار) د ماينونو او نورو ناچاودو توکيو د بدې اغېزي او ګواښ څخه خلاصون و مومي.

دملګرو ملتونو دماين پاکي خدمتونو داداري رييس ښاغلی ماکس ويل کرلی (Maxwell Kerley) ووېل:" خوشحاله يم چه اوس مهال د غزني د ښار يعنې د تمدن او د فرهنګ د اړخه د بډاي ښار د ماين پاکولو په کار لاس پورې شويدئ. موږ د تمويل کوونکو ګډونوالو، او د اسلامي دوستو هېوادونو څخه غوښتنه کوو چه له موږ سره پدې مهمه لار کښې لا زياته مرسته او ملاتړ وکړي. ترڅو د هغې پواسطه د غزني اوسېدونکي او کورنۍ په دا وروسته ديرشو کلونو کښې لمړئ ځل د ماينونو او نورو ناچاودو مهماتو د شتون ،تهديد او ګواښ څخه پرته د امن او سکون په فضا کښې ژوند و کړي."

که چېرې ددې پروژې د بشپړېدلو څخه وروسته سمدستي نوره بودجه ترلاسه شي نو د ماين پاکولو ۱۲ ټيمونه به د غزني په مرکز کښې په ماينونو ککړې پاتې سيمې په دوه کلونو کښې ( تر هغه وخته چه نوموړئ ښار د اسلامي تهذيب د مرکز په نامه نومول کېږي ) د ماينونو او نورو ناچاودو توکيو او مهماتو د شتون څخه پاکې کړي. دغه پروژه به د افغانستان د ماين پاکي پروګرام د ټولنې پر بنست د ماين پاکولو د موډل يا طريقې څخه کار واخلي. نو بنا پردې، د ماين پاکولو زيات کارمندان به په خپله د غزني د ولايت څخه استخدام او وروزل شي. او همدارنګه د نوموړو کارمندانو فعاليتونه به د OMAR موسسې د تجربه لرونکو کارمندانو له خوا وڅارل شي. ددې پروژې له لارې تر دې دمه ۵۰ نوې دندې رامنځته شويدي. د نوموړو کارمندانو د زدکړو او روزنو

کورسونه به د سپتمبر د میاشتې په لمړۍ نېټه بشپړشي. او دهغې وروسته به فارغ شوي کسان د هغو کارمندانو سره چه لاپخوا يي کار پیل کړیدئ يو ځاي شي. سربېره پردې به د ماین پاکولو دوه نور ټیمونه هم استخدام او وروزل شي او پدې ډول به د ماین پاکولو ټول اته ټیمونه د سیمی له خلکو څخه جوړشي.

UNMAS د قانون د نفاذ او د امنیتی ادارو د سولې د رامنځته کولو د عملیاتو د دیپارتمنت په دفتر کښې ځاي لري.

دافغانستان دماین پاکی چارو دهمغږي مرکز او دافغانستان دماین پاکي پروګرام:

د افغانستان د ماین پاکی چارو د همغږۍ مرکز( MACCA) ننګه او ملاتړ د افغانستان د حکومت او د ملګرو ملتونو له خوا کېږي. دغه مرکز په افغانستان کښې د ماین پاکولو پروګرامونه د پلان جوړولو ، منجمنټ، د کیفیت څخه ډاډ تر لاسه کول او داسې نورو په ګډون، سره همغږي کوي او همدارنګه په افغانستان کښې د ماین پاکولو ټول فعالیتونه رانغاړي. دملګرو ملتونو دماین پاکی خدمتونو اداره دافغانستان دماین پاکی چارو دهمغږي دمرکز د ټولو فعالیتونو د تر سره کولو لپاره مالي مرسته برابروي.

**دلا زیاتو معلوماتو لپاره :**

رفيع الله الکوزی/فلورا سترلند
دبریښنا لیک پته : rafiullah.alkozai@macca.org.af /Flora.sutherland@macca.org.af
دتیلفون شمیری :+93 (0) 705 966 372 / +93 (0) 705 966 371